# د COVID-19 واکسینونو په اړه کورنۍ په څه شي پوهیدلو ته اړتیا لري



## آیا واکسین خوندي دي؟

- د COVID-19 واکسین خوندي دي او کار کوي.
- دا واکسین تاسي ته COVID-19 نشي درکولی. تاسي ممکن د واکسین کولو وروسته جانبي عوارض ولرئ، مګر دا نورمال دي.
- په متحده آیالاتو کې میلیونونه خلکو د COVID-19 واکسین کړي دي، او دا واکسین د امریکا متحده آیالاتو په تاریخ کې د خوندیتوب شدید څارنې او نظارت نه تیر شوي دي.
- د COVID-19 واکسین د 12 کلونو او ډیر عمر لرونکي ماشومانو کې هم **خوندي دي او هم اغیزناک دي.** خوندیتوب د واکسین لپاره ستر لومړیتوب دی، او د FDA تایید د خوندي کلینیکي څیړنې پایلو پربنسټ دی.
- والدین باید د خپلو ماشومانو لپاره د COVID-19 واکسین کولو خوندیتوب او اهمیت په اړه معتبر معلومات وګوري او بیاکتنه یې وکړي. د دې څیړنې کول تاسي سره مرسته کوي چې د واکسین په اړه عام کیسو باندې پوهه شئ.

## په سکریمانټو کې زه چیرې واکسین ترلاسه کولی شم؟

- په سکریمانټو کې تاسي ډیرې مختلف موقعیتونو ته ورتللی شئ لکه روغتیایی کلینیکونه او روغتونونه، سیف وی درملتونونه، CVS، رایټ اېډ، والګرینز، والمارټ، کال نارت سټیټ، کال ایکسپو، سکریمانټو سټیټ، کال ایکسپو، مک کلیلن پارک او نور د ټولنې ورته کوچني سایټونه.

## څوک واکسین کولی شي؟

- پدې اونۍ کې پیل سره، **د 12 کلونو او ډیر عمر لرونکي هرڅوک** کولی شي د COVID-19 واکسین وکړي. تمه کیږي چې د 12 کلونو نه کم عمر لرونکي ماشومانو لپاره واکسین وروسته پدې کال کې تایید شي.
- د 18 کلونو نه کم عمر لرونکي ځوانانو لپاره د والدین رضایت ته اړتیا ده.
- **د 18 کلونو نه کم عمر لرونکي ځوانان اړ دي فایزر (Pfizer) واکسین وکړي**. نور دوه برانډونه (مودرنا (Moderna) او جانسن او جانسن (Johnson & Johnson)) د 18 کلونو نه کم عمر افرادو لپاره تایید شوي ندي.

## آیا د واکسین کولو لپاره زه ملاقات اخیستلو ته اړتیا لرم؟

- ځینې موقعیتونه تاسي ته وایی چې ملاقات واخلئ مګر ډیری یې د ملاقات پرته ورتګ سره واکسین کوي.
- تاسي کولی شئ په https://myturn.ca.gov/ یا په http://bit.ly/SacCountyVaccine کې آنلاین ملاقات واخلئ
- ډیری سایټونه د تلیفون له لارې ملاقاتونه ورکوي.
- که تاسي ملاقات اخیستلو کې مرستې ته اړتیا لرئ 211 یا 4519-529 (916) ته تلیفون وکړئ.

## د واکسین ملاقات ته زه باید د ځان سره څه راوړم؟

- هرډول د شناخت سند چې نوم او د زیږون نیټه ورباندې لیکل شوې وي، که شتون ولري.
- د امریکا متحده آیالاتو تابعیت یا قانوني اوسیدو ته اړتیا نشته.
- بیمې ته اړتیا نشته. ټول واکسینونه **وړیا** دي.

## د COVID-19 لپاره د ماشومانو واکسین کولو ګټې څه دي؟

د COVID-19 واکسین په COVID-19 د اخته کیدو څخه د خلکو خوندي ساتلو کې ډیر اغیزناک دي. د ماشومانو واکسین کولو ګټو کې شامل دي:

- **د ناروغۍ نه د ماشومانو خوندي کول:** پداسې حال کې چې د COVID-19 څخه د ماشومانو واقعي ناروغیدو احتمال کم دی، خو هغوی بیاهم ناروغیدی شي. په ماشومانو کې د COVID-19 اوږدمهاله اغیزې تراوسه معلومې ندي. په ځینې خلکو کې COVID-19 د اوږدمهاله علایمو لامل شوی دی، پشمول د ستړیا، په ساه اخیستلو کې مشکل، د جوړو او مفصلونو درد او حتی ډیپریشن او اضطراب.COVID-19 همدارنګه په ماشومانو کې د څو سیستم التهابي سینډروم (MIS-C) په نوم پیژندل کیدونکي احتمالي شدید حالت، په ندرت سره پیښیدونکي پیشو پورې هم تړاو لري.

- **د تولنې خوندي کول:** ماشومان په COVID-19 اخته کیږي، او هغوی نورو ته ویروس خپروي. دا خورا ساري ویروس دی، او موږ د دې خپریدو بندولو لپاره د لوړې سطحې معافیت ته اړتیا لرو. د 18 کلونو نه کم عمر لرونکي ماشومان په سکریمانټو کې د نفوس شاوخوا 24% دي. زموږ د ټولې ټولنې خوندي کولو لپاره موږ اړ یو چې ماشومان واکسین شي. دا په ځانګړي توګه د لوړ خطر خلکو خوندي کولو لپاره مهم دي. که چیرې ستاسي کورنۍ کې کوم څوک د معافیت ضعیف سیسټم لري، تاسي غواړئ ډاډ ولرئ چې د هغوی شاوخوا هرڅوک واکسین شوی وي.
- **د COVID-19 بیلابیل بڼو مخنیوی کول:** د COVID-19 خپریدو بندول د نوي بڼو راپیدا کیدو بندولو او مخنیوي لپاره خورا مهم دي. هرڅومره ډیر چې دا ویروس د یو فرد نه بل فرد ته خپریږي، هغومره ډیر چانس لري چې په ډیر عفوني یا خطرناک بڼه بدل شي.
- **د ماشومانو لپاره د سالمیت ښه کول:** په نهایت کې، د ماشومانو په واکسین کولو او د وبا په کمولو سره، ټولنې د منظم ښوونځي مهالویشونو، ورزش، د لوبې نیټې او د ماشومانو لپاره د نصاب نه بهر فعالیتونو ته بوګام ورنږدې کیږي. دا د هغه ماشومانو فزیکي او رواني روغتیا لپاره مهم دي څوک چې د تیر کال راهیسي دا فرصتونه نلري.

### آیا په ماشومانو کې د COVID-19 واکسین جانبي عوارض شته؟

- ماشومان ممکن د COVID-19 واکسین ځینې هماغه جانبي عوارض ولري چې په لویانو کې راپور ورکړل شوي دي، پشمول د:
  - ساړه
  - تبه
  - سر درد
  - د عضلاتو درد
  - زړه بدی
  - ستړیا
  - د ستنې ځای ته څیرمه مټ کې درد
- دا جانبي عوارض ممکن د دوهم دوز وروسته ډیر عام وي او دا د دې نښه ده چې ستاسي بدن محافظت جوړوي. د واکسین لپاره جانبي عوارض عموماً 2-1 ورځو کې ښه کیږي.

### که چیرې زما کورنۍ کې کوم چا واردمخه COVID-19 درلود، آیا بیاهم باید واکسین شي؟

- **هو**، کله چې تاسي خپل د 10 ورځو تجرید موده پای ته ورسوئ تاسي کولی شئ واکسین وکړئ.
- پداسي حال کې چې د COVID-19 څخه رغیدلي خلک ښایي د ویروس پروړاندې یوڅه معافیت ولري، موږ لاهم نه پوهیږو چې دغه معافیت څومره قوي دی – یا دا څومره موده دوام کوي. واکسین نږدې په هر چا کې د انټي باډي غبرګون پیدا کوي.
- ډیټا ښئ چې واکسین د معافیت جوړلو کې په واقعیت کې د طبعیت پرتله ښه کار کوي.
- موږ پوهیږو چې واکسین ستاسي په COVID-19 اخته کیدو مخنیوي کې 95% اغیزناک دي.